د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

Logar لوګر

میاشتنۍ خپرونه

د تاسیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

یکشنبه د ۱۳۹۷ کال دلیندۍ د میاشتې څلورمه، د ۲۰۱۸ عیسوي کال دنوامبر پنځه ویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۹۸) لومړی کال، اومه ګڼه

نبوي ارشاد:

رسول الله (صلے الله علیه وسلم) فرمایي: یا اباایوبه! داسې صدقه درته ونه ښایم چې دالله(ج) او دالله د رسول ډیره خوښیږي؟ دخلکو ترمنځ سوله کوه، کله چې په شخړه اوري او کله چې فساد رامنځته کیږي.

(المعجم الکبیرللطبراني حدیث ۳۸۲۵)

سرلیکنه ...

دحضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) دنیکمرغه میلاد په ویاړ؛

د ربیع الاول دولسمه داسلام دسترلارښودحضرت محمد (ص) د زوکړې له ورځې سره برابره ده. دغه نیکمرغه ورځ هر کال په ټوله اسلامي نړۍ او په ځانګړې توګه افغانستان کې د ختمونو په ترسره کولو سره لمانځل کیږي.

دبشریت ژغورنکي او داسلام سترلارښودحضرت محمد(ص) په ۵۷۱ زیږدیز کال د دوشنبې په ورځ د عبدالله بن عبدالمطلب په کور کې وزیږیدل.

حضرت محمد مصطفی (ص) ته څښتن تعالی له بدمرغیو، د ناپوهیو له تیارو د انسان د ژغورلو؛ د اجتماعي عدالت او د انسان د روحي آرامتیا د تامین او د بشر د اخلاقي روزنې ستر رسالت ورسپارلی ؤ.

آنحضرت (ص) دارسالت په کامل امانت او بري سرته ورساوه؛ د دې رسالت د پوره کیدو په لار کې یې هر راز کړاونه او ستونزې په خورا حوصله مندۍ او زغم سره وګالل او بشریت یې د اسلام د مقدس دین په انوارو منور کړ.

له بعثت نه وړاندې انساني ارزښت خپل مفهوم له لاسه ورکړی ؤ، دانسان هسکه غاړه به کاڼو،بوټو،لوټو اولرګیو ته ټیټدل . انسان به دځارویو په څیر دبتانو په دربارکې حلالیدل اوانسان به ژوندي په خاوره خښیدل.

حضرت محمد(ص)هماغسې دانسانیت په اړه دنور د غره په سمځه کې ناست ؤ، چې د سپیده داغ په مهال ورته دانسانانو د څښتن رب العلمین له خوا دخلاصون پرښته راغله اوهغه ته یې دانسانیت دنجات اولارښوونې ډیوه په لاس کې ورکړه او ورته ویې ویل: ((دهغه پالوونکي په نامه لوستل پیل کړه، چې داهرڅه یې پیداکړي،انسان یې له یوې ټوټې وینې پیداکړی، ولوله ستاپالوونکی ډیرمهربانه اوډیرقدرمن دی،هغه ذات دی، چې په قلم سره یې ښوونه وکړه اوانسان ته یې هغه څه ورزده کړل، چې هغه پرې نه پوهیده.))

نوپه دې توګه حضرت محمد(ص)دکایناتودخالق اومالک له لوري دانسانانودهدایت اولارښوونې لپاره وګمارل شواوپه پیغمبري مبعوث شو.

اسلامي علماءاو د نړۍ ټول اسلام پوهان په دې عقیده دي، چې د نبي کریم (ص) ویاړلی شخصیت د بهترینو صفاتو او عالي خصلتونو څښتن ؤ او د بشریت د لارښوونې په لاره کې یې بې سارې هڅې، ارشادات، خبرې او نظریات یې ستر ارزښت لري .

حضرت محمد مصطفی(ص) د ښو اخلاقو درلودونکی ؤ، تل به یې خلکو ته درناوی کاوه، پر ماشومانو باندې ډېر زیات مهربان ؤ، له ستونزو او کړاونو څخه یې وېره نه درلوده، هېڅکله یې هم چاسره په کبر او غرور خبرې او رفتار نه کاؤ، نظافت او پاکوالي ته یې خورا زیات اهمیت ورکول او تل به پاک او خوشبویه ګرځېدل علم سره یې زیاته مینه وه او خلک به یې تل د علم د زده کولو لپاره هڅول ښه امانتدار ؤ او امانت کې به یې خیانت نه کول. د درواغو او چل نه به یې پرهېز کول او د پیغمبر (ص) همدا ښه اخلاق د دې سبب شول، چې د اسلام دین پراختیا ومومي او ډیرو خلکو د اسلام دین ته مخه کړه او مسلمانان شول.

حضرت محمد(ص) په پنځه ویشت کلنۍ کي له بي بي خدیجې سره واده وکړ او په څلوېښت کلنۍ کې د لوی او سپیڅلې خدای(ج) له لوري په پیغمبري مبعوث شو او د پیغمبري په ۲۳ کلنه دوره کې قران عظیم الشان پرې نازل شو او د اسلام د خوراوي په موخه یې۳۰ غزاوي او جګړې وکړې او د ۶۳ کلونو په عمر یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

راځئ، چې ددې ستر پیغمبرستر پیغام په سراوسترګو ومنو، غاړه ورته کیږدو، خپل ژوندپرې جوړکړواوپه دې توګه خپل ارزښت ترلاسه کړو.

په پای کې د لوی څښتن تعالی دربار ته لاسونه لپه کو،چې الله تعالی دې زموږ دمسلمانانو ټول اعمال، تل پر اسلامي ارکانو، تعالیمو او دحضرت محمد (ص) پر لارښوونو برابر لري او د سرور کاینات د بختور میلاد په فضیلت دې زموږ هېواد له هر ډول بلاو او آفتونو وژغوري او د ګران افغانستان ټول ولس ته دې الله تعالی توفیق ورکړي، چې خلکو ته د خدمت له لارې خپل هېواد سمسور اوښیرازه کړي.

د میلاد النبي (ص) د نیکمرغه جشن برکت دې تل زموږ ټولو د سر سیوری وي!

تربیا دخدای پامان

مدیر

شاگردان موفق امتحان سیرت النبی(صلی الله علیه وسلم) تقدیر شدند

شاگردان موفق امتحان سیرت النبی صلی الله علیه وسلم به تاریخ ۲۵ عقرب از سوی مدیریت عمومی امورجوانان ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر با اهدای تقدیرنامه ها وتحایف مورد تقدیر وستایش قرار گرفتند.

امتحان سیرت النبی صلی علیه وسلم به تاریخ ۲۵عقرب سال جاری میان دوصدونود دانش آموزان(۹) مکتب دولتی وخصوصی مرکز لوگر ازطرف مدیریت عمومی امورجوانان راه اندازی گردیده بود که طی محفل با شکوهی درتالار شهرداری لوگر از شاگردان ممتاز تقدیربعمل آمد.

انجنیر محمدکاظم ابراهیم زاده مدیرعمومی امورجوانان درجریان صحبت هایش هدف از راه اندازی مسابقه سیرت النبی (ص) را آشنایی بیشتر جوانان ونو جوانان باسیرت وکردار پیامبرص عنوان نمود وافزود که با راه اندازی همچون برنامه ها زمینه تعمق بیشتر جوانان به سنت رسوالله ص مساعد میگردد.

مولوی سمیع الحق راشد یکتن از عالمان دین درمورد سیرت واخلاق پیامبر(ص) صحبت های همه جانبه نمود وعلاوه کرد که اگر همه مسلمین مطابق به سیرت نبی کریم(ص) اعمال شانرا برابرنمایند واز سنت آنحضرت(ص) پیروی کنند کامیابی داریـن را نصیب خواهند شد ، آقای راشد ضمن تشکری ازریاست اطلاعات وفرهنگ ازهمه جوانان خواست که سیرت رسوالله ص را سرمشق زندگی شان قرار دهند. ...

بقیه درصفحه چهارم

مرکز ولایت لوگر صاحب دوصدو سی ویک شورای انکشافی شد

مسوولان برنامه میثاق شهروندی در لوگر میگویند برای شورا های مرکز این ولایت جهت هماهنگی ومدیریت بهترآنها کلسترها ایجاد میگردد.

گردهمایی وسیع که به همین مناسبت بااشتراک الحاج محمد انور خان اسحاق زی والی لوگر، حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی، مسوولین ملکی ونظامی، اعضای شورای های انکشافی ومحلی وبزرگان قومی مرکز این ولایت در تالار شاروالی تدویر یافته بود نخست عاشق الله اخلاصیار رئیس احیاء وانکشاف دهات پیرامون موضوع معلومات داده گفت:برای بار نخست به سطح کشور به اثر سعی وتلاش همه جانبه اداره یاد شده وموسسات همکار شان توانستند که در مرکزوولسوالی خوشی میان 303شورا انتخابات را در روشنی برنامه میثاق شهروندی راه اندازی نموده ودومراحل اساسی این برنامه را تکمیل نمایند.

بعد انجنیر ظفرخان مسوول ولایتی میثاق شهروندی در لوگرپیرامون برنامه معلومات همه جانبه داده گفت که میثاق شهروندی برای ده سال در سه مرحله پلان شده که خوشبختانه در لوگر دومرحله آن به شکل موفقانه سپری شده است

انجنیر ظفر خان افزود که طبق پلان 33درصد لوگر تحت پوشش قرار گرفته است که در حال حاضر انتخابات ایجاد کلسترها میان 231 شورا انکشافی مرکز لوگر صورت گرفته وتمام شورا هادر 31کلستر جابجا میشوند.

محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ گفت: جای بسا افتخار است که بزرگان مرکز ولایت لوگر همه یکجا شده بخاطر آبادی این ولایت برخاسته مصدر خدمت میشوند وی از بزرگان خواست تا با فکر دقیق رئیس واعضای کلسترها را انتخاب نمایند.

همچنان الحاج محمد انور خان اسحاق زی والی لوگر ضمن تبریکی به تمام مسوولین شورا ها گفت:سعی نمایند که با درنظرداشت الویت های منطقوی تان پروژه ها را پلان نمایند تا به شکل بهتر ازبرنامه های میثاق شهروندی مستفید شوند.

قابل ذکر است که در تمام ولایت لوگر 789 شورا در چوکات برنامه همبستگی ملی فعالیت داشتند که در حال حاضر در مرکز وولسوالی خوشی 303 شورا در چوکات برنامه میثاق شهروندی فعالیت دارند. **عدیل**

خرخ ولسوالۍ ته نوی ولسوال ور وپېژندل شو

دلړم۱۴مه: د لوګرولایت د خرخ ولسوالۍ لپاره خلیل الله کمال د نوي ولسوال په توګه دنده پیل کړه او پخواني ولسوال احمد حنیف حنیفي مخه ښه وکړه.

په همدې تړاو د لوګر ولایت په مقام کې ناسته ترسره شوه، چې په کې والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي، ولایتي شوار مرستیال عبدالولي وکیل، پخواني ولسوال او د ولسوالۍ کارکوونکو ګډون کړی ؤ.

د لوګر والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي د پخواني ولسوال احمد حنیف حنیفي له کارونو خوښي څرګنده کړه او نوموړی یې د ښو کارونو ترسره کولو په خاطر وستایه.

د لوګر والي نوي ولسوال ته مبارکي ورکړه او هیله یې څرګنده کړه، چې پاتې کارونه وځاري او ولس ته غوره او مسؤلانه چوپړ ترسره کړي.

د یادونې وړ ده، چې خلیل الله کمال د انجنیري په برخه کې له کابل پوهنتون څخه لیسانس لري او تر دې مخکې هم په څرخ ولسوالۍ کې د ولسوال په توګه پاتې شوی ؤ.

دلوګرولایت مقام مطبوعاتي دفتر

علاقه مندان مطالعه در لوگر افزایش یافته است

با راه اندازی برنامه های آگاهی دهی در مورد اهمیت مطالعه و کتاب خوانی، علاقه مندان مطالعه نسبت به سال های گذشته بیست درصد درولایت لوگر افزایش یافته است.

عبدالاحمد فیضی مدیرعمومی کتابخانه های عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگربه آژانس باختر گفت که به اثر سعی و تلاش و راه اندازی کارزار های تبلیغاتی درمراکز تعلیمی، تحصیلی، مدارس دینی و گردهمایی ها از سوی کارمندان کتابخانه حدود بیست درصد فرهنگ مطالعه در این ولایت افزایش یافته است که روزانه بیش از نود تن شایقین مطالعه به شمول دختران به کتابخانه های عامه مرکز و ولسوالی های محمدآغه وبرکی برک مراجعه میکنند که سال گذشته این رقم 30 تا 35 تن بود.

فیضی افزود که در جریان سال جاری برای غنامندی کتاب خانه عامه، چهار صد جلد کتاب های چاپ جدید را به دست آورده اند که برای حل مشکلات مراجعین به خصوص محصلان نهایت ممد واقع شده است و چندین جلد آنرا به کتابخانه های ولسوالی ها نیز ارسال نموده اند و یک هزار جلد کتب دیگر 500جلد آن از سوی فرهنگ دوستان و500دیگر آن از طرف نهاد های مختلف به کتابخانه عامه اهدا گردیده است. ...

بقیه درصفحه چهارم

میلاد پرافتخارسرورکاینات فخرموجودات نماینگرخجسته ترین روز درجهان اسلام بوده وجناب حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) مربی ومعلم واقعی مملو ازاخلاص، صداقت و دلسوز برای امت مسلمه است.